سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۳/۱۲/۲۸

دپښتونولۍ حقوقي نورمونو د پښتون ولس او د افغان ملي دولتونو ایډیالوجیک بنسټ ایښودلي

لومړۍ برخه

د افغان حکومت په کورنۍ او بهرنۍ سیاست کې، په عدلي او قضایي اورګانونو کې، په مشرانوجرګه، ولسي جرګه کې او د اطلاعاتواو کولتور په وزارت کې پردي ارزښتونه زمور خپل منل شوي لرغوني افغاني ملي ارزښتونه لکه د افغان ملي هویت، افغانیت اوان د اسلامیت ار زښتونه پردي ګرځیدلي دي. حکومت کې د ننه او بهر افغان ضد پردیپالي ډلې په افغاني اسلامي دودیزه ټولنه کې د خپلوشومو موخوترلاسه کولولپاره، د تبعیض اوتعصب خپراوي لپاره ټلویزیونونه او ډلیزه رسنۍ فعالي کړي دي.

نن ټول رون اندي، هیوادپال پښتانه افغانان ویني، چې د پښتونپه ملي اسلامي ارزښتونو، نورمونو او کلتوري هویت باندې د پردي پالوناپوهه، متعصبو عناصرو لخوا په ډیرو نازکو، خونړیو جګړیزو حالاتوکې نوي ناځوانه پلید بریدونه تر سره کیږي. افغانان پښتانه مجبور دي، د دغې متعصبې ډلو مخه چې په هره بیه وي، په جدي توګه په ګده ونیول شي. پښتانه د خپل ملي هویت او لرغوني هیواد د ارزښتنو دوست او دښمن اوس ډیر ښه پیژني. نور په خپل ږستوني کې د مکار ډارن پردیپاله دښمن چلونوته بې تفاوته پاتیکیدل ستره ولسي تیروتنه او ګناه ده.

د پښتنومرکې، جرګې د پښتونولۍ له اصولوڅخه دي، چې د تفاهم، خبرواترو، د زغم او زغملوسترکولتور دی.

پښتونولي د پښتونو دولسي منځلاریتوب، عدم تشدد، د سولیز ولسواکه ګډژوند، د حیا، پردي، عزت، د وروږګلوي، پرته له هرډول تبعیض او تعصب لاره ده. دپښتونولۍ د اصولو له مخې هرڅوک دا حق لري، په ټولنه کې د منل شویوملي اسلامي ارزښتونوته په درناوي سره په عزت، حیا او پرده کې سولیز ګډ ژوند وکړي. په لوی افغانستان کې پښتنوته داسلام دین او پښتونولي اجازه نه ورکوي، چې د نور لږکیو وروڼو قومونو ځخه ځان برتر یا پورته نه وګني او نه یې ګڼلي دی. پښتانه خپل حق او دبل حق هم پیژني. افغانستان کې پښتانه نه یواځې ډیره کې دي، بلکې دوی د افغانستان د محاصرو دولتونو بنسټ د جرګوله لارې ایښودلي دی. له همدې امله په ټولنه او دولت کې د دوی حقوق د نورو لږکیو په پرتله د نړیوالو دولتي قوانیو پربنسټ قانونډیږدي. پښتانه د افغان ملي دولتونو دولتي ولس، دولت جوړونکي ولس، دولت وړونکي ولس په ځیر پیژندل شوي دي. د پښتونولي اصلي منځ زړي او بنسټیز فلسفي فکر هر ریښتني افغان پښتون ته دا ورزده کړي، چې ته، ستا کورنۍ، ستاقبیله، ستاسیمه، ستا ولس، ستاهیواد او ستا د پښتني افغاني ملي هویت ارزښتونه تل له ګوابنونو سره مخامخ دي. دا ستا دننګ او غیرت ایماني دنده ده، چې د بهرني دښمن په وړاندې دفاع او ساتنه وکړي.

دپښتونولۍ ټرمینالوجیک اصول انسان ته ریښتینوالي، خیرښېګڼه، د ارادې ځواکمنتوب، نه ماتیدونکي، نه تسلمیدونکي افغاني لوړهویت، افغاني غیرت، ملي احساس، لوړ کرکټر، صبر، زغم اوعالي کلک هوډ همت ور زده کوي. پښتونولي یا د پښتنوقبیلوي تعاملاتي قانون په لوی افغانستان کې او په نړیواله کچه د پښتني ټولنې، د ټولنیز پرستیژ، د ټولنیزاخلاقي عادتونو، د کړو وړو نورمونه او دانساني فلسفي دلرغونو ارزښتمندو ارزښتونو یوه منلي شوي حقوقي ټولګه پیژندل شوي ده.

افغانانوله پیړو پیړو راهیسې په دولتي چوکاټ کې او یا د دولتي اورګانونوڅخه پرته، په خپل منظم خپلواکه سیستم، قبایلي دودیزه نظام کې له خپلوملي نورمونو او ارزښتونوسره ګډ ژوندکړي دی. پښتونولي د پښتنو افغانانو په ستر هیواد کې د سولیز عدالتي ګډ ژوند لپاره هرپښتون ته یومنلي شوي لرغوني ستر کانسپټ Konzept دی. دغه کانسپټ یوشمیر منلي شوي منطقي حقوقي نرخونه، فلسفي پاخه بنسټونه او ځیرکي لري. پښتونولي یا افغانیت د پښتني ټولنې قبایلي لرغوني ایډیالوجۍ ده. پښتونواله یا پښتونولي پښتنوته له پلرونو او نیکونو، له یونسل ځخه بل ته، په شفري، شفاهي او شعري تحریري ډول په میراث پاتې شوي ده. پښتونولي د بشریت په تاریخ کې، د پښتنود تاریخ په اوږدوکې د پښتون ولس یو زوړ، لرغوني، تصوفي، معنوي، روحاني ټولنیزګډ هویت دی. پښتونولي د پښتني ټولنې او دپښتون ولس یو نړیوال انځوردی. پښتونولي په مستقیم ډول د پښتنو له سترکورڅخه، د قبایلو، قبیلې، د افغان سترملت، د افغانانوملي دولتونو، د افغان ملي هویت، د پښتون ولس له ارزښتونوڅخه په خپل پلارني هیوادکې روحآ، جسمآ او عملآ دفاع کوي. پښتونولي د افغانانو له سولیز ژوندانه او خپلواکۍ ځخه د بې شرمه، بې ننګه، بې نامه، بې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نشانه، بي حيا، بي عزت، بي وطنه، سپين سترګي يرغلګر دښمن په وړاندې په خوندي توګه ساتنه او دفاع کوي. پښتونولي دپښتنوخپلواکه ،عزتمن ، غيرتمن ،سوله مل اومتمدن ژوند ارزښتناکه ارزښتونو په خوندي ساتلو کې،د ټولنې په امن اونظم او دسمون په لاره کې يو ايډيالي رول لوبوي.
پښتونولي د پښتني ټولنې په کولتوري اوملي هويت پيژندکې يوستر بر لاسي ځواکمن ځواک پاتې شوي دی. د پښتونولی ځواک او اغيزې تراوسه د پښتنو په زاړه پاله، محافظه کاره ټولنه کې دحقوقي امن او نظم موازينه ساتلې ده. د جرګواو مرکو تاريخ ته په کتو سره پښتونولي د پښتون ولس لپاره يو دفاعي سيستم دی. د پښتونولي دوديزه قانون او ارزښتونه له امونه تر اباسينه د ټولو پښتونو افغانانو ګډ ملي خصوصيات دي. د پښتونولي سيستم دپښتون افغان ولس په ژوندانه کې سره د خپلو ټولوکورنۍ او بهرنۍ ستونزو، جګړيزو خونړيوکړکيچونو، د خپلو ټولنيزو خيرښيګڼې چارو سره د اسلام له مبين دين ځخه مخکې او راورسته د ژوند او فکر دلارې مل دی. د پښتونولی د پوهې اصلي ماناپه دې کې ده، چې دغه انساني پوهه د انسانانو پر کولکټيفي سالمه ګډه پوهنه باندې راڅرخيږي. پښتونولي له پيړيو پيړيو راهيسې پښتوته په پښتنه ټولنه کې د ټولنيز امن اونظم، ټولنيزعدالت، عدم تشدد، د سوليز ګډوند په لورهدايت او لارښوونه کوي. د ځو پيړيو راهيسې د پښتونولي دغه انساني دوديزه قانون د اسلام له مبارک دين ځخه پرته بل هېڅ مذهب او دين ته سرنه دی تيت کړي. پښتي، پښتونولي، افغانيت په نړۍ کې د ستر پښتون ولس د خومخټاري، خپلواکۍ، پرستيژ، حيثت، وقار، شان شوکت، ولسي شتون، ولسي يووالي، وجود ابقا له پاره يوه ګرانټي ده.
پښتونولي د پښتون افغان ولس د ملي يووالي او ملي دولتونو ايډيالوجيک بنسټ ايښودلي دی. پښتونولي په پښتنوکې د «مورِ احساس» يا په پښتنوکې د پښتونتوب ملي ولسي احساس پياوړي کوي. پښتونولي نه دين، نه مذهب، نه کومه نوي سياسي پردي ايډيالوجي ده او نه کوم ملی توپير چلنده غورځنګ دی.
دلويديځ د ښکيلاک او دزبرځواکي امپرياليستي نړۍ پوهان او څيړونکي هم په دې پوهيږي، چې افغانستان ولي ديرغلګرو زبرځواکو، ستروا‌کيو ستره هديره ګرځيدلي دی، دوی په دې پوهيدلي دي، چې په افغانستان کې د دوی د ماتې اصلی لامل يا عنصرد پښتنو د پښتونولي اصول دي. پښتونولي د پښتنو د خپلواکۍ مقاومت، د خپلواکۍ احساس، د پښتنونګ، غيرت، د پښتنوتوريااليتوب او د پښتنو د ايمان ځواک نوره هم ځواکمن کړي دی. پښتانه تر نورو ډير په خپله خپلواکي، خپله خاوره، پرخپل سپيڅلی دين او مذهب باندې ننګ او غيرت کوي. د لويديځ يرغلګر و پردي پوځونو د افغان ولس د خپلواکۍ مقاومت ځکه مات نشو کړي، چې پښتنو افغانانو په خپل مقاومت او د خپلواکۍ په جګړه کې تل د پښتونولي د توري له شرنګ، غيرت او د اسلام د مبارک دين له سپيڅلي صفاتو او ارزښتونه ځخه کار اخيستي دی.
په نړۍ کې هيڅ يوه داسي انساني مدني ټولنه او ايډيالوجيک سياسي ټولنيز سيستم نشته، چې هرځه په کې پرفيکټ وي. پښتونولي د لرغونوزمانوځخه د سوکاله، خوشحاله ټولنې لپاره د با وجدانه با ضميره انسانانو يوګډ فکر دی، په ډير خواشينۍ سره دا فکر او دوديزه قانون لا تراوسه نه دی ليکل شوي. له شکه پرته د پښتنو دغه لرغوني قانون د اسلام د مبين دين او شريعي قوانينو په رڼا کې سمون او ودې ته اړتيا لري. د بيلګې په ډول پښتونولي يونارينه پال قانون دی. په خواشينۍسره ښځه په پښتنه ټولنه کې لکه د دريمي نړۍ په ورسته پاتې هيوادو او ټولنو کې دوهم ځای لري. په افغاني ټولنه کې پوهې لوستي ښځې ورو ورو خپل حقوق د اسلامي شريعت او د پوهې له لارې ترلاسه کوي. د ځولسيزو راهيسې تجربه لرونکې مشراني، سپين سري ښځې دکلي، کورنيو شخړو په مرکو او لويوجرګو کې هم برخه اخلي. پښتني ټولنه کې ښځې دپوهې ترلاسه کولو سره ورو ورو خپل خدای ورکړل شوي حقوق اوحقونوته لاره خلاصوي.
افغاني ټولنه د نړۍ يوه لرغوني دوديزه ستره ټولنه ده. افغانان لا تراوسه د ملت جوړوني او دولت جوړوني په بهير کې لاس اوګريوان دي. زمورِ په افغاني ټولنه کې کوم نورمونه، ارزښتونه چې پردي ګرځيدلي، هغه زمورِ خپل لرغوني ملي اسلامي ارزښتونه دي.
د پښتونولي قانون د اسلامي شريعت قوانيونواو نورومدني قوانينو پربنياد ليکولو او سمون ته اړتيارلري. دافغانستان ورستی دولتونه يو په بل پسې ځکه له سقوط سره مخامخ شول، چې دوی په خپل دولتي چوکاټ او د خپلوقوانينو په جوړښت کې د افغانيت او اسلاميت ارزښتونه، نورمونه د خلکو په خوښه په سمه توګه مشخص او تنظيم نه کړو.
زما په اند په ورستيو سلوکالونوکې د افغانستان د نه پرمختګ او ورسته پاتيوالي اصلي لامل په دې کې نغښتي دی، د لويې لوبې دسيالۍ له پيل ځخه له يوې خوا انګريزانواو روسانو پښتانه تر سختو پوځي بريدونولاندې راوستو او په انزوا کې وساتل شول او له بلې خوا کله چې افغانان د پښتونولي د لرغوني احساس له مخې د انګريزانو او روسانو د پوځي استعماري ګوابښونو په وړاندې تر خپل ځان يو فولادي د يوال را تاو کړو. پښتنو خپله دو ديزه قبيلوي ټولنه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دنړۍ له موازي پرمختګ څخه نوره هم په شا يا ورسته پاتي کړه، ورسره پښتانه په مادي او معنوي توګه بي وزلي شول او د خپل دوديزه ساده ژوند په فورم کي ورسته پاتيکيدل يي خوښ شول، ترهغه چي دانګريزانو او روسانو نړيوال استعمار لاندي د مربيتوب يا غلامي مادي ښه ژوندغوره کړي.
د افغانيت يا پښتونولي په اړه دنړۍ په ډيرو ژبو او بهرنيوادبياتوکي لکه الماني، انګليسي، فرانسوي، هالنډي، روسي، ايټالوي، هسپانوي، سويدني، چکي، جاپاني او دنړۍ په نورو ژبوکي، پوهنتوني او اکاډميکي ژوري څيړونې د حقوقپوهنې، سياستپوهنې، توکمپوهنې او ټولنپوهنې په رڼا کي تر سره شوي دي. همدا راز د پښتونولي په اړه د نړۍ په ډيرو پوهنتونونو او پوهنځيوکي د سياستپوهنې، حقوقپوهنې، توکمپوهنې او ټولنپوهنې په برخه کي د دوکټور، ماسټري په کچه پوهنتوني علمي ډيرۍ په زړه پوري په اعلي درجه بريالي اکاډميکي څيړني ترسره شوي دي.
همداسي د پښتونولي په اړه ډيروځيړونکو، ډيپلوماتانو، توکمپوهانو ټولنپوهانو او حقوقپوهانو د پښتنو د قبايلي لرغوني قانون او ارزښتونو په اړه هراړخيز کتابونه، تيزسسوونه، سيمينارونه، سياسي، ادبي ليکنې اومقالې ليکلي دي.
د پښتونولي د ارزښتنو، نورمونواو ځواک په اړه داليکنه څوبرخي لري، چې د نړيوالو پوهنتوني اکاډميکو ليکنو، څيړنواو کتابونو پربنسټ کومي چې ما تر خپل وسه په الماني ژبه کي لوستي دي، د بيلګو او اخيځليکونو سره ترتيب اوليکلي شوي ده. د پښتونولي دقانون دځيړونو او پيژندګلوي لپاره نړيوال ځيړونکي په خپله افغانستان ته د پښتنو سيموته تللي دي او هلته يي په خپله پښتانه له نږدې څخه د پښتونولي د کړو وړو، عرفونواوعادتونو سره ليدلي دي، له دوی سره يي د پښتونولي په اړه خبرې اترې، پيژنګلوي، څيړني اوتجربي تر سره کړي دي. دوی په سيمه کي د پښتنو له سپين ګيرو، مشرانو او پوهانوسره خپله پوهه شريکه کړي، د لوديدځ ټول مخورو نامتو ښاغلي څيړونکي د پښتنو افغانانو د پښتونولي يا فلسفي حقوقي فکر څخه لږ يا ډير يو ډول انځور او پوهنه اخيستي ده.
د پښتونولي تعريف او مفهوم په اړه ټول لويديځوال نامتو پوهان، څيړونکي او ليکوالان په يوه خوله دي، چې پښتونولي د حقوقو، اخلاقو، مورال يا دښې کړني کوډ يا شيفر، حقوقي تعاملات، دښه خوی اوعادت، کولتوري اړيکي، د ژوندانه معقول د وديزه تصورونه و نورمونه او جوړښتونه په خپل غېږي کي ټينګ نيولي دي. دوی دا هم وايي، چې د پښتنود کړو وړه او د عزت کوډکس وده او پرمختګ ټولنيزه سياسي ښکارنده نه يواځي داسلام په مبين دين کي خپلي ريښي لري، بلکي دابراهيم (ع) تر دين پوري خپلي ريښي لري.
پوښتنه دا ده، چې څنګه د پښتونولي سيمه ايزه جرګي د پښتنوپه لرغوني ټولنه کي د دولتي حاکميت په شتون کي او يا دولتي سياسي ادارو پرته او يا دولتي عدلي، قضايي ځواک ته دخلکو نه لاسرسي له امله، خلک بياهم سيميزو جرګوته ورځي او د دوی په حقوقي، جزايي اجراعاتو، خپلمنځي شخړو او د دعوا په حلولوکي د جرګو د پريکړو ميکانيزم پلي کيږي. په ليکنه کي دپښتني ټولني ديوي سيمه ايزه جرګي د دعوا بهيراو ډول دبيلګي په توګه وړاندې کيږي.
په دغه ليکنه کي دپښتونولي له ادبياتوڅخه دمهموترمينالوجيکو مصطلعات تشرح له ځولنډو بيلګو سره ، دپښتونولي لويه جرګي، د ملي جرګو او مرکو لنډ تاريخ او په ورستي برخه کي د پښتونولي په اړه ديوايټالوي توکمپوه څيړنه په نامه د (زوړ قانون په ځوان دولت کي) ژباړل شوي. هيله ده چې دا د ملي ارزښتنوموضوع د خپل مهموالي له امله خپلو ارزښتمندو مينوالو ته په زړه پوري وګرځي.

دافغانيت ياپښتونولي Etymologie
ايټمونولوجي په نوی ژبپوهنه کي د توري پيدايښت او تشريح ته ويل کيږي.
داسي مالوميږي، چې تر اوسه د پښتي، پښتونولي د نورمونو ارزښتونو د بنسټ ايښودلو او دوديزه قانون د پيل نيټه او ځای سم مالوم نه دی. موږ پوهيږو، چې د پښتونټولنه د نړۍ له زړو ټولنو څخه يوه ستره ټولنه ده. افغانان په سيمه کي پنځه زره کلن لرغوني تاريخي ثبوت لري. پښتي، پښتو، د پښتون نوم او پښتونولي د لويي پکتيا په تاريخ کي خپلي لومړني ريښي لري. له پخوا څخه د پښتونولي په اړه ډير لږ ليکلي شوي اسنادشتون لري. ډير پښتانه په دې اند دي، چې دا قانون او حقوقي نورمونه ځکه نه دي ليکل شوي، چې پښتي، پښتونولي د پښتنوپه زړونو، په فکرونو، په وينه او په جين کي شتون لري.
پر همدې بنسټ کولي شو ووايو، چې پښتونولي له پنځه زره کلنو څخه تر ننه د پښتنود ټولنيزو، حقوقي، سياسي او ملي دولتي چارو، د راکړې ورکړې او کړو وړو بنسټ جوړوي.
پښتونولي يا افغانيت په لوی افغانستان کي د ننه او بهر يا په ګرده نړۍ کي د درست پښتون افغان ولس د سړيتوب يا د شخصيت يو ايډيالي انځور په ځير پيژندل کيږي. دا د افغانانو منل شوي اصيل لرغوني اصول دي. افغانستان کي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پښتانه په خپله پښتونولي ته د « افغانيت» توري استمالوي او کله هم په ځينو سيموکي ورته پښتي او پښتونواله هم ويل کيږي.
په ۱۹۳۶ کال کي د افغانستان د ملي ژبې پښتو په ريفورم کي افغانيت يا پښتونولي « پښتون افغان اوسيدل » په بله وينا پښتونتوب ته ويل کيږي او په دري ژبه کي افغانيت « افغان بودن » ته ويل شوي دی. دافغانستان داساسي قانون په تاريخ کي د افغان نوم د افغانستان هر وګړي او هر اوسيدونکي ته ويل کيږي. دامنلي شوي تاريخي خبره ده، چې څوک د افغانستان وي، هغه افغان دی.
په ۱۹۳۹ کال کي سترپښتون، ستر افغانپوه، په ملګرو ملتو کي سترافغان ډيپلومات پوهاند مرحوم عبدالرحمن پژواک له خوا د پښتنوقانون پښتونولي رسمآ د کابل په سالنامه کي د افغانيت په نامه درج او وليکل شو.

پښتون، پښتو او پښتونولي
پښتانه په افغانستان کي، د افغانستان لپاره، په سيمه او نړۍ کي خپل يو ځانګړي ستراتيجکی ځای لري. ورسره د پښتنو ټولنه د نړۍ يوه ستره لرغوني ټولنه پيژندل شوي ده. پښتونولي يا افغانيت د افغانانو د تاريخ په اوږدو کي د ملي حاکميت، د ملي احساس، ملي هويت او ټولنيز ژوندانه په برخه کي يوه ستره برخليک ټاکونکي ونډه درلودلي ده. پښتونولي د پښتونو افغانانو په فکرونو او زړونو کي د لرغونو زمانو څخه ديوي پټي خزاني په څير ساتل شوي ده. پښتونولي د پښتنو پيژندګلوي ده. پښتوله يوو لوري د پښتنوژبه ده، له بل لوري پښتو د پښتون ولس د قبيلوي کړو وړو کودکس او د نرخونوقانون ته ويل کيږي.
لوی افغانستان په نړۍ کي د اټکل پنځوس ميليونو پښتنو افغانانو کډ پلارني لرغوني ګران هيواد دی. دوی لږ يا ډير د پښتونولي د قانون تر سيوري لاندې ژوندکوي. په ۱۸۹۳ کال د انګريز نړيوال کولونياليستي سياست له خوا د پښتون پرلوی کور د کاغذ پرمخ د ډيورنډ توره کرښه ويستل شوه. له همدې املې نن د نړۍ په ډيرو برخوکي له څه باندې يوې پيړۍ څخه پښتانه په استراليا، افريقا او سويلي امريکا کي ژوند کوي. د ورستيو ځلويښت کلني جګړو په بهير کي څوميليونه پښتانه افغانان په اروپا امريکا، استراليا، افريقا او اسيا کي د ګډوالي ژوندشپې ورځې تيروي. پښتانه په لوی افغانستان او په خپلو کي ځانونه د افغان يا پټان د نوموځخه مخکي د پښتون يا پختون په نامه ياده وي. پښتون د خپل هيواد څخه بهر دی بيا په ويار سره دافغان په نوم ځان درپيژني. د نړۍ نورولسونه هم لکه پښتانه همداسي په څومترادفونومونه يادېږي .
د بيلګې په ډول المانيان، دوی ځانونه په المان اوپه خپلو کي د (دويچ - Deutsch) په نامه ياده وي، دوی خپله ژبه د المانې په نامه نه بلکي د(دويچ) په نامه نه ياده وي. د المان هيواد څخه بهر بيا دوی ځانونه د جرمن په نامه درپيژني. د المان او د نړۍ په ټول هيوادو کي لږکي توکمونه په اساسي قانون کي ليکلي شوي ملي هويت پرته له کومو ناندريومني .

پښتون او پښتونولي
اصيل پښتون او سيدلوته دا کفايت نه کوي چې يو سړی د مور او پلار څخه پښتون زيږيدلي وي. په بله وينا يا دی د پښتنو سره د وينی شريکي اړيکي ولري. پښتون مجبور دی، چې د پښتونولي ارزښتونه او نورمونه په خپله پر خپل ځان باندې تطبيق او پلي کړي.
پښتون په پښتنه ټولنه کي وجداناً ځان مکلف بولي، چې د پښتونولي ټول منلي شوي اصول په خپل ځان کي پلي کړي. پښتي، پښتونواله او پښتونولي د خپل ډينامېک Dynamik اوانحطاف پذيری Flexibelität ځواک درلودلوله امله، دخپل مډرن او لرغوني پرنسيپونه له امله ديو ريښتني عزتمن، ميړني پښتون څخه غواړي، دی بايد لومړۍ د خپل ځان حيثيت، عزت او شرافت ته درناوی ولري. دی بايد خپله خپلواکی ولري او د خپل کور، د خپلې سيمې او دخپلې خاوري واک په خپل لاس کي ولري، دی بايد عدالت، ميلمه پالنه، مينه، ښنه ، بدل، زغم، رحم د ټول بشريت په وړاندې پرته له تبعيض څخه ولري. په ځانګړي ډول د پردي اود خپل ميلمه څخه ميلمه پالنه په سراو زړه کي ولري. ټول دغه انساني ارزښتونه او د انساني ژوند قاعدې مرسته کوي، تر څو په پښتنه ټولنه کي ټولنيزعدالت، اخلاقي ارزښتونه، مورال، امن، نظم، دسولې، ثبات او سوکالۍ موازينه برابره وساتل شي.
د پښتونولي اصول په ډير قوت سره د پښتون افغان ولس په ملي هويت، انفرادي کرکتر او کړو وړو باندې راولاړل شوي دي. د بيلګې په ډول د پښتونولي په حکم او قانون کي سړی له خپل سره څخه هم تيريږي او دا نه مني، چې له

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پښتي يا پښتونولي څخه ويستل شي. پښتنه ټولنه يوه هويتي دوديزه قبيلوي رنګه ټولنه ده، په پښتنو کې هر څه نشنليستي نه دي. د پښتونولي په قانون کې اصلا د لويديځوالو سياستونو په څير نشنليستي رنګ او خوند نه نشته.
د پښتونولي نورمونه په ټولنه کې د يو شمير اخلاقي، مورالي او د ژوندانه د خيرښېګونې کړنلار ې او قاعدې سره راغونډوي. پښتونولي د پښتنو يونااليکل شوي لرغوني قبايلي نورمونه، د عزت کوډکس او يو ټولګتي ټولنيزانساني قانون دی.
پښتونولي په پښتني ټولنې کې په حقوقي، سياسي، اقتصادي او کولتوري برخو کې د هر اړخيزسمون او ريفورم راوستلو ته لارې خلاصوي. په ملي او نړيواله کچه د پښتني ټولنې د دعزت کوډکس، نورمونه، ارزښتونه، دود دستور، قومي نرخونه او په ټولنه کې ښې چارې، کړه وړه د يوقبايلي قانون په څير پيژندل شوي دي. پښتني ټولنه کې د پښتونولي قانون اصلي فلسفه او د اصولواصلي ستنې افغاني ټولنه کې عدالت، سولې او امن ساتل اود پښتني ټولنې پايښت لپاره لاره هواره ول دي. پښتونولي له پښتون سره د تولنې ټول غړي دعزت کوډکس له لارې د خپلوي په ټارسره تړي.
د پښتونوالي په اړه د نړۍ په تاريخي کتابونو کې او د نړيوالي مدني ټولنې هر توکمپوه، ټولنپو ه او حقوقپوه په خپلو ليکنو او څيړنو کې د پښتونو د لرغوني انساني ټولنيزو نورمونو څخه په عزت او درنښت ياده ونه کړي ده . دوی هم اقرار کوي چې پښتني ټولنه له پخوا څخه کومه ابتدايي، اسانه ټولنه نه وو.
د هريوافغان او دهري يوې پښتنۍخور شخصي ايماني وجداني مسؤوليت او دنده ده، چې وپلتي، وڅيړي، ومومي رابرسيره کړي او بياهم رابرسيره کړي، چې د پښتونولي انساني، افغاني، اسلامي ګډو ارزښتونو، ارزښت، شته والي او مانا په څه کې نغښتي ده. مه پرېږدئ چې د پښتني ټولنې د پايښت لپاره زمونږ د پلارنو، نيکو ښکلي فکرونه د جنګ، جګړو په اور کې خاورې ايرې نشي.

اسلام او پښتونولي

د افغانستان په اساسي قانون کې ليکلي شوي دي، چې د افغانستان دين د اسلام سپيڅلی دين اسلام دی. افغانستان بې له شکه يواسلامي هيواد دی او يوه افغاني اسلامي دوديزه ټولنه ده. په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولاي چې د اسلام د سپيڅلي دين د متعقداتو او احکامو مخالف وي. په افغانستان کې داسلام سپيڅلی دين الهي احکام او ارزښتونه له افغاني زاړ و ټولنيزو ارزښتونو، دودونو، نورمونو او نرخونو سره ګډ شوي دی. له دې امله پښتونولي يا افغانيت له اسلاميت سره په ټکر کې نه شي کيدی. اسلام په افغانستان کې لکه د نړۍ نور اسلامي هيوادونو په شان خپل افغاني روحيه او رنګ لري.
افغانستان کې د اسلام سپيڅلي دين خپل افغاني رنګ اوخوند لري. همداسي اسلام په پنجاب کې پنجابي، په ايران کې ايراني، په تاجکستان کې تاجکي، په ترکيه کې ترکي، په ماليزياکې ماليزيايي، په عربستان کې عربي او مصرکې مصري رنګ لري.
افغانستان کې داسلام سپيڅلي دين د افغانيت خپل رنګ او خوندلري .زمونږ مذهبي ارزښتونه او قبيلوي منلي شوي انساني ارزښتونه داسي له يوبل سره ګډ شوي دي،چې پښتوافغانانوته اوس ډيره ګرانه شوي ،چې دغه د دواړه ارزښتونو له بو بل څخه بيل کړي .
کله چې يوه جرګه راوبلل شي ،مرکې يا جرګې د مرکچايانولخوا د قران کريم د ايتو په ويلوسره پيل کيږي ،د جرګې پريکړې دقران شريف دايتوپه ويلو سره د دعوا ددواړوخواو له خوا منل کيږي . دجرګې دپريکړې پرمهال د قوم مشران ، سپين ګيري او ديني عالمان او ملايان په ګډه سره ناست وي .
د پښتونولي اصول په هيڅ صورت دقران کريم او د اسلامي شريعت سريع احکام له پامه نه نشي غورځولي او نه يې ماتولي شي . ځکه پښتونولي دانسانانو نه ليکل شوي قانون دی اود اسلامي شريعت سريع احکام الهي احکام دي . هغه حقوق چې الله (ج) خپل بنده ته ورکړي،پښتونولي هغه مني ،ورته درنښت لري او د همدغو حقوقو،احکامود پلي کولو ننګه هم کوي .ځکه دپښتونولي ارزښتونه هم د انساني ژوند، ټولنيز امن نظم او عدالت لپاره رامنځته شوي دي . دا هغه ټولنيز نورمونه دی، چې ريښې يې څو زره کاله مخې کې له اسلام څخه له پښتونولي څخه اخيستل شوي دي . دا ټولنيز ارزښتونه او دودنه په پښتنوکې دي .د پښتونولي ارزښتونه او ټولنيز نورمونه ديوي ډيري زاړه پالي ټولنې ارزښتونه او نه ليکل شوي پاتې دي ، په شفاهي اوشيفر ي يا د کوډ په ډول يو پښت څخه بل ته همداسي سينه پر سينه او خوله پر خوله راليږل کيږي . دپښتونولي اصول بيا په ځينو وختونوکې دلندۍ يا د شعر په بڼه هم ليکلي شوي دي .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دپښتونولي پوهنه داسلام په مبارک دين او علم کي خپلي ريښي لري .پښتونولي تراسلام مخکي د افغانانو د قبيلوي ټولني دخپلواکی،مقاومت ، ټولنيز،سوليز دوديزه ژوند نه ليکل شوي اصول او قانون دی . پښتونولي د پښتنو د ننګ اوعزت کوډکس يا د يو با عزته ژوند شيفر دی . پښتونولي د افغانانو د ژوندانه يوه ځانګړي فلسفه ده .پښتونولي دځمکې پر مخ د هر با عزته انسان لپاره د ننګ ،غيرت او انساني ژوند يوسينګارتون ګرځيدلي شي . پښتونولي په لوی افغانستان کي تراوسه د لراوبرافغانانو ترمنځ د ګډ سوليز ژوند اصلي ا صول اود ملي يووالي منځ زړي جوړوي .

افغاني ټولنه کي ځينواسلامي دلو د الهي له سريح احکامامو،قوانيونو او ارشاداتوځخه شرمونکي سرغړونه او ناوړه استفادي او وژنې کړي دي .دپښتونولي له ناليکل شوي دوديز بشري قانون څخه به زمور په نالوستي ورسته پاتي ټولنه کي به خامخا ځښتي ډيرې سرغړونه ،بدماشي او دکرکي څخه ډکي جرمي عملونه د پښتونولي په نامه ترسره شوي وي . دغه غير انساني، غير افغاني او غير اسلامي زړه بوګنونکي جرمي عملونه د اسلام له سپيڅلي دين سره او دپښتونولي سره هيڅ تړو نه لري.

پښتونولي اود افغان ملي دولتونه

کله چې افغان ملي دولتونو دافغانستان په لرغوني او محاصر تاريخ کي غوښتي ځواکمن ولسي او فعال واوسي، دوی په ډيرو برخوکي قبايلي جوړښتنو او نورمونه سره په ګډه همکاريو ته اړ شوي دي. له همد امله قبايلي دوديزه سيستم مډرن ملي دولتونوته اصلاحي اومرسته کونکي ځواک په ځير پيژندل شوي دي. يو افغان ځواکمن بريالي ملي دولت به هغه مهال بري ته لاروموي، کله چې دی قبايلي دوديزه جوړښتونوته اونورمونه ددولت جوړولو او ملت جوړولو په بهير کي په مناسب ډول قانوناً په خپل کورنۍ او بهرنۍ سياست کي مدغم کړي. د افغانستان ډيرو بادشاهانو او دولتمشرانو دغي مهم مډرن او دوديزه ټکي پام شوي.

د افغانستان په سويلي ولايات لويه پکتيا، پکتيکا او خوست کي د پښتونولۍ قبايلي دودونه او نرخونه لا تر اوسه په ولس کي ډير ي ژورې ريښي لري. دغه درې ولاياتونه د نورو ستر سيموسره لکه وزيرستان، ننګرهار، غزني، لوګر، کابل او زابل سره په ګاونډکي پراته دي. دلته د قبيلي او د قبيلو ترمنځ اړيکي په ډيره ښکاره توګه فورمول بندي شوي دي. له همدې امله افغانستان کي د پښتنو دوديزه ټولنه يو ستر سياسي، ټولنيز او تلپاتي اتحاد او يووالي جوړوي. د طالبانودرژيم څخه مخکي او د ړنګيدو څخه لږ ورسته په افغانستان کي د دولتي واک تشه رامنځ ته شوه. د افغانستان په سويل ختيځ ولايتونو يا لويه پکتيا کي د دولتي واک تشه نسبت نورو سيموته ډيره لږ محسوس شوه. ځکه دلته قبايلي جوړښتونه، نرخونه او د پښتونولي نورمونو د انارشي او پاتېکسالارۍ مخه ونيوله.

د لويې پکتيا قامونه، مشران د جرګو او مرکو له لارې دنويوقوانينو يا قانون جوړولو واک هم لري، دښې بيلګې په توګه د قبايلي جرګې او دوديزه قانون له مخې د کوکناور کښت په دريو واړو ولايتونو کي منع علان شوی. د قبايلي قانون له مخې متخلف ته سزا هم تاکل شوي، که ځوک دغه قانون مات کړي، د هغه کور ته اور اچول کيږي. لويه پکتيا کي دولتي ځواک او امنيت تل د قومي مشرانو، مخورسپين ګيرو، خانانو او اربکيو له لارې تامين شوي دی.

د پښتونولي پايله د هغوګډو کولکټيفي غوښتنو او پوښتنوده، چې يوه ډله يا قبيله د خپلو غړيوڅخه يي تمه لري. دا هغه نورمونه، ارزښتونه او دودنونه دي، چې يوې ډلې د خپل ژوندي پاتيکيدلو او سوکاليو لپاره ټاکلي دي، لکه په حقوقي، ټولنيزو، کولتوري چارو کي خپلواکۍ او يووالي دی. په ټولنه کي د پښتونولي د ناليکل شويو نورمونه دپلي کولو او تطبيقولو لپاره هيڅ دولتي اداري او وسله وال ځواک ته اړتيا نشته، دا نورمونه د پښتني ټولنې د غړيوله خوا له په همدې ځواک او شددت سره په خپله عملي کيږي. د پښتونولي قانون دعملي کيدو سره په مستقيم ډول يوه پوښتنه د پاک ضمير او ډياک وجدان ټولني رامنځته کيږي. د دې پرځای چې د پښتونولي نورمونه او پريکړه ددولت داجراييوي ځواک يا پوليس له خوا پرخلکو تطبيق شي، پښتانه پرته له کوم دولتي ځواک څخه قوانين او نورمونه په خپله پرخپل ځان تطبيق او عملي کوي.

پښتني ټولنه کي په اروپايي مانا له حق او قانون څخه خبرې کول ډيرګران کار دي. ځکه د اروپا يانو په اند، د قانون پلي کول د دولت ديو اورګان له خوا بايد تطبيق شي. په پښتني ټولنه کي دا فکر ناشوني دی. د پښتونولي حقوقي سيستم بايد په خپله له ځان سره لښکر يا اربکيانو له لارې ديريکړو د تطبيقولوسره مرسته وکړي. د پښتنو ټولنه په خپل بنسټ کي د کنټرول کومه مرکزي قانوني مرجع نه پيژني، چې هغه مرجع د قانون تطبيقولو چاري پرغاړه واخلي.

د پښتنو په ټولنه کي ددعوا په صورت کي د دولتي قانون پلي کولواو تطبيقولو په ځای جرګه رابلل کيږي . کله چې په پښتني ټولنه کي د پښتونولي له کوم نورم او دود څخه سرغړونه وشي، جرګه سمدستي قانون نه پلی کوي، بلکې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جرګه د مدعی او مدعي اعلیه ترمنځ دمنځګړتوب یوه مرجع ګرځي. جرګه یا مرکه ترهغه کینې اوخبرې اترې کوي، ترڅو چې د دواړو غاړوترمنځ یوه موافقه رامنځ ته شي.

د پښتونولي کانسپټونه
پښتونولي د پښتنو د ارزښتونو، نورمونو او دعزت کودکس یوه لرغوني پټه خزانه او حقوقي شیفرې ټولګه ده. پښتونولي په پښتنه ټولنه کې د پښتنو د ټولنیز ژوندکړه وړه ، نرخونه ، دود، دستور، د اسلام د سپیڅلي دین د الهي ارشاداتو په رڼا کې ټاکي. د پښتونولي کانسپټونه Konzept چې د پښتنوعادتي قبیلوي قانون ته یوه ستره مانا ورکوي. د پښتونولي په ادبیاتو کې ترټولولومړی د ننګ، میلمه پالنې او د توري کانسپټ راځي . د ننګ کانسپټ یو پښتون په خپله ټولنه کې د ګډ ټولنیز چارې یا د خیر ښېګڼې دندې ته رابولي. ورسپارلي شوي چار دیوې ډلې یا یوې قبیلې د ساتنې او دفاع لپاره تر سره کیږي. پښتون دغه اچار دهغې چا له پاره تر سره کوي، چې د هغې مسؤولیت ور په غاړه دی. لکه دخپلې کورنۍ څخه دفاع، د خپلې قبیلې څخه دفاع، د خپلې سیمې څخه دفاع ، دخپل پلارنې هیواد څخه دفاع ، د خپل مذهب څخه دفاع ده. پښتونولي یو پښتون ته دنده سپاري، چې د خپلو میلمه څخه دفاع وکړي، د ارتیا په صورت کې د هغه سړی یا میلمه ساتنه وکړي، همداراز میلمه تر خپل مصون ځای پورې بدرقه کړي.
یو پښتون د توري کانسپټ د سریتوب، دخپل ځان او دخپلو غوښتنو یا انټرس لپاره کار وي.
د پښتانه په دې اند دي، چې یو پښتون سړی تل په یو تربور ي چاپیریال کې ژوند کوي، دی باید په ټولنه کې د خپل پوزیشن څخه، له خپلې کورنۍ او ځمکې څخه دفاع وکړي، تر څو له ده څخه دژوند دغه یادي شوي مادي او معنوي زیرمې وانه خیستل شي.
کله چې د پښتونولي دغه دري مهم ټکي دګوابښ سره مخامخ شي، پښتون د یو جګړیز او قهرجن حالت سره مخامخ کیږي، دته چې هر شي په لاس ورځي، دی مجبوردی دخپل ځان او ارزښتونڅخه دفاع وکړي.
پښتونولي یا افغانیت دپښتنو د نورمونو، ارزښتنویو سیستم دی. پښتونولي د پښتنو قبایلي قانون دی. پښتونولي د پښتنو د اساسي قانون به نامه هم یاد شوي دی. پښتونولي نه یواځې د پښتنو قبایلي لرغوني قانون بلکې د پښتنو دغیرت او عزت کودکس یا کوډ په نامه یادیږي.
پښتنوله ډیرو لرغونوزمانو څخه د خپل ټولنیز امن اونظم او سولیز ژوند لپاره یو ځانګړي حقوقي، ټولنیز او خپلمنځي شخړو د سولیزو حل لپاره یومنطقي میکانیزم رامنځ ته کړي دی، دوی خپل ټولنیز، خپلمنځي شخړې کړکیچونه او حقوقي، سیاسي او ملي پریکړې د جرګو مرکو د فیصلو له لارې حلوفصلوي. له همدې امله ترننه د پښتنوپه قبایلي سیموکې د نوی دولتي نظم او قانون نشتون دوام لري . افغان دولتونو هم نه دي غوښتي، چې خپل ملي حاکمیت دلته ټینګوي. د دولت او ولس ترمنځ واټن له همدې ځای څخه پیل کیږي.

دافغان مرکزي ملي دولتونو لخوا د پښتنو لرغوني قبایلي سیستم د نوی کولو لپ برسیرنې او د سمون هڅې پرپښتنوکومه اغیزمنه اغیزه نه ونشیندله. انګریزي او روسي یرغلګرو هم په خپل وارسره هڅې وکړې، ترڅود پښتنو د فیوډالي جوړښتونه ورغوي. دغه ټولې هڅې تر اوسه ناکامي شوي دي. د پښتنو لرغوني قبایلي سیستم تر اوسه همداسي د جګړو داور په لمبو کې سوځي او چلیږي.
د یوې پیړۍ راهیسې دنړۍ دسترو زبرځواکو دیرغلګرو، ښکیلاګرو په وړاندې د جنګ جګړوله امله لر او بر پښتنو هڅوته دا فرصت په لاس نه دی ورغلي، چې دوی د خپل ولسي توکمي ګډ هویت، کلتوري ګډ هویت، خپله مورنۍ ګډه ژبه او د پښتونولي لرغوني ګډ قانون، دوددستور، ګډهویتي په ملي سیاسي ډول په ګډه د یو واحد ملت په څیر مطرح کړي.
پوښتنه دا ده، چې د پښتنو دلرغوني پښتونولي نورمونه او حقوقي ارزښتونه د یو ټولنیز ټرون په چوکاټ کې د ننني نړۍ د نویو مډرنو پرمختګونو سره اړخلګوي او یا دبشري حقوقود سمون له لارې یوځای کیدای شي؟
پښتونولي د پښتنویو نالیکل شوي عرفي تعاملاتي قانون دی، اما په ټولنه کې منل شوي حقوقي ټولنیز ارزښتونه او نورمونه دي. چې د پښتنو حقوقي شخړې، د ملکیت حقوق او شخړې او نور ټولنیز کړکیچونه لکه د ځمکه د څړځایونو ویش اوی ا کله چې څوک د پښتني تولني نورمونه نرخونه او ارزښتونو ته درناوي نه کوي دغه نورمونه او رزښتونه په ولس کې دقامونو دمشرانو، سپین ګیرو، خانانو، ملکانواو ان د ملایانو لخوا پلي کیږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ټولیزه توګه پښتونولي د افغاني پښتني ټولني دشتون، پایښت، او بقا او لار ښووني لپاره شتون لري او د پښتونولي په چوکاټ کې د هر یو پښتون افغان د مثبتوکړه وکړه ساتلو لپاره یوځواک دی. په بله وینا په پښتونولي کې ټول هغه ارزښتونه او نورمونه راټول کړل شوي دي، چې یو پښتون په یوه انساني ټولنه کې څه وکړي او څه ونه کړي.
په پښتونولي کې د پښتنو افغانانو لپاره د کړو وړو کودِ یا شیفرپروت دی. د پښتونولي دا کودِ یواځې د پښتنو د ټولنې له جوړښت سره تړو لري. د پښتنو ټولنه د د قوموڼواو قبیلو د خپلوي او د ویني شریکوالي پربنسټ تنظیم او رامنځته شوي ده. په ټولو ټولنیزو، سیاسي چاروکې لکه له یوې کورنۍ، قوم ، قبیلې او توکم سره تړو درلودل یواځې او یواځې د دوی د انفرادي هویت یوه نښه ده. داپه دې مانا نه ده، چې پښتون ولس په قوموڼواو قبیلو ویشلي شوي ولس دی. بلکې دیو پښتون تړواو خپلوي دیوې قبیلې سره دا د دوی ترمنځ د خپلمنځي او ټولنیزو پرنسیبونو څخه ګټل کیږي. له همدې امله افغاني ټولنه لا تر اوسه دملت جوړوني په بهیر کې لا س او ګریوانه ټولنه ده. پښتانه اوس پوهیدلي دي، دوی مجبورشوي دي، چې د قبیلویت د توټې توټې ژوند څخه ورو ورو راوځي اویو یوموټي واحدافغان ملت په لاره کې اوچت او ګړندي ګامونه واخلي.
دافغان راتلونکي ملي دولتونه باید په خپل کورنۍ، بهرنۍ سیاست، ملي قوانینو د افغانانوملي هویت د افغانیت او د اسلامیت ارزښتونو ترچتر لاندې نوي تعریف کړي. د افغان ملي دولت په اساسي قانون کې او دولتي ایډیالوجۍ کې پښتانه باید د دولت جوړونکي، دولت وړونکي او د دولتي ولس په ځیر تثبیت شي.
کله چې د افغان مرکزي ملي دولتونه دولتي ایډیالوجۍ د افغاني لرغوني ارزښتونو کرکتر ولري ، زمور په افغاني ټولنه کې به دټولنیزو، سیاسي ګډوډیو تاوتریخوالي او ناپوهې مخه ونیول شي.
پښتونولي د افغانانود حقونونه، د پښتونود با عزته ژوندکودِ یا کودکس او یو ځانګړي قبایلي قانون دی. دغه لرغوني قانون دپښتون دکور یووالي، د پښتنوقبیلوي یووالي، ددولت او د هیواد یووالي لپاره او د پښتون افغان د عزت ساتنې او دپښتون ولس د ایډیالونوله پاره او دفزیکي شتون لپاره یو خورا مهم لرغوني کانسپټ دی. د پښتنو قبایل خپلې شخصي او دولتي شخړې د پښتونولي د نورمونو او نرخو په بنسټ حلوفصلوي. که څه هم دا نورمونه او ارزښتونه د پښتني په هره سیمه کې لږ توپیرلري خو په بنسټ کې په ټول افغانستان کې سره یودول دي.

افغان ستر ملي شاعر ملنګ جان دپښتونولي په اړه لیکي.

زما ځواني ډول کوي دپښتونواله سره — زه په پښتو او پښتونواله باندې سر ورکوم
چې بې ننګ او بې پښتو وي ،پښتون نه دی — چې دقوم په شرمیدو وي،پښتون نه دی
پښتون هغه دی چې غم د تمام قوم خوري — چې دځان په جګیدو دی ، پښتون نه دی

دپښتون نظر مدام په ننګ ونام وي — چې نظریې په پیسو وي ،پښتون نه دی
پښتون هر کله طالب دخپل شرف وي — چې طالب دسپینوسرو وي،پښتون نه دی
پښتون تل په خپله ژبه ټینګ ولاړ وي — چه په دورغویي ګفتګو وي،پښتون نه دی
پښتون نه شي باداري دچامنلي — چې اختیار یې دپرودو وي،پښتون نه دی
په نصیب دملنګ جان دغه مسري شوي — چې خپه په دې مسرودی ، پښتون نه دی

د لومړي برخي پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ